د میلاد النبي (علیه الصلاة والسلام) په موضوع کې نادر او نایاب تحقیق

میــــلاد النبي

بتحقیق الحماسي

از افاداتِ :

شیخ القرآن والحدیث، ابُ الکُتُب، حضرت

عبدالحمید الحماسي

الحنفي النقشبندي الدیوبندي

جمع او ترتیب :

کریم الله (هرات)

مقدمة

الحمدلله الذي قال في كتابه لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا و ايضًا قال وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ. والصلاة والسلام على رسوله الذي قال في خطابه التَّحَدُث بِنعمةِ اللهِ شُكْرٌ. وعلى آله و اصحابه و اهل بيته اجمعين.

اما بعد! د ديوبند مدرسې سرلاري او محتج بهٖ عالم مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپلو ملفوظاتو کې د بدعت په اړه يوه ډېره قيمت بها خبره ليکلې، هغه دا چې زموږ احناف مبارکان همېشه په فقهي څخه مسئله ثابتوي او بدعتيان او وهابيان په قرآن او حديث سره دليل وايي ځکه بدعت په فقهي کتاب کې نسته، نو مجبوراً له قرآن او حديث څخه يو اشاره اخلي او خپل بدعت يا وهابيت په ثابتوي. (ملخصًا)

کوم عالم ډېره ښه خبره کړې، چې د وهابيانو سره په مناظره کې يو لوی تاوان دا دئ، چې موږ په لومړي سر کې دا ورسره ومنو، چې دليل په قرآن او حديث سره وايو حالانکه د مذهبي کس لپاره ضرور دا ده، چې بايد د مذهب له کتاب څخه حواله واخلي او ورکړي، که څوک مذهب ته قائل نه وي، د هغه سره له سره دليل ويل نه دي پکار.

همداسي خبره شيخ حماسي صاحب هم کوي، چې زما وينا د هغو چا لپاره نه ده، چې غير مقلد وي. ځکه په دنيا کې ۹۵ په سلو کې خلک مذهبيان دي، نو موږ بيا د بل چا خبره څه کوو.

لوی اختلاف هغه وخت را پيدا کيږي، چې د هر يوه دليل ځانته وي.

کله کله په کوم تاريخي روايت باندي لکه غرونه دومره دلائل ردوي او ځان پر حق هم بولي، چې ښه مثال يې د برصيصا قصه ده، چې شيطان به پر خلکو باندي اثر کوئ، بيا به هغه خلک برصيصا ته راتلل. کله چې به برصيصا دم شروع کړ، نو شيطان به هغه پرېښودل. دوی دغه تاريخي روايت زموږ پر هغو خلکو باندي چسپاندوي، چې پر شرعي طريقه دم او تعويذ کوي. يعني هغه په لوی تعداد آياتونه، حديثونه او فقهي استدلالات په يوه تاريخي روايت ردوي. وَيَحْسَبُ اَنَّـهُ مُحِقٌّ.

شيخ حماسي صاحب ته الله تعالی د نورو کمالاتو ته ترڅنګ دوه لوی کمالات دا ورکړي، چې خبره له فقهي کتابونو څخه ثابتوي او د اسلافو په اړه نيک ګمان کوي.

دا رساله مي د ده حفظه الله له دوو بيانونو څخه ترتيب کړې، چې د اسلافو دا خبره وربانديي تطبقيږي: قياس کُن ز ګلستانِ من بهارِ مرا.

الله تعالی ته خواست وکړئ، چې زما دا کوچنی کوښښ د قبوليت درجې ته ورسوي.

په يوه ديني تنده

کريم الله (هرات)

بسم الله الرحمن الرحيم

میلاد شریف څه ته وايي؟ حماسي صاحب يې ډېر ساده او عام فهمه تعریف کوي: تعریف يې دا دئ: مجلس ته خلک را جمع سوي، د رسول علیه السلام صفت کوي، د بریلویت شعار پکښې نسته، رسول علیه السلام ته السلام علیک یا رسول الله نارې څوک نه وهي، په کښېدا (نڅا) مجلس نه تیروو، د خلکو لپاره احکام د الله ذکر کوو، د نبي علیه السلام سیرت، اخلاق، جهادونه او عادتونه بیانوو، په دې خاطر مجلس جوړول، بس دا د رسول علیه السلام میلاد دئ.

آیا مخکي هم میلادونه جوړېدل؟ حماسي صاحب يې په اړه وايي: زه دا ثابتوم، چې په مکه مکرمه کي د وهابیانو تر پیدا کېدلو مخکي هر کال میلاد لمانځل کېدئ. (یعني تر ۱۳۰۰هـ کلونو مخکي)

په مخکنیو زمانو کي خلکو میلاد رد کړئ؟ په اړه يې حماسي صاحب وايي: په دنیا کي څومره اسلامي تاریخونه جوړ دي، عربي درته ښیم، پښتو، اردو او فارسي نه درته ښیم، په هیڅ کتاب کي د میلاد د رد مسئله نسته.

حماسي صاحب زموږ له ځیني مذهبي علماؤ هم ګیله لري: کله کله زموږ مقلدین علماء هم ډېر ساده سي، یو پښتو کتاب چیرته وګوري، وايي، پښتو کتاب کي يې لیکلي وو، چې (میلاد) ناجائز دئ. ورک سه، که ته رښتیا مُلا يې پښتو کتاب مه ګوره، ولې عربي کتاب نه ګورې.

په دې مختصره رساله کي د کومو علماؤ فتواوي دي؟ فرمايي: دا د دنیا په سطحه لوی لوی علماء دي..... په ټوله دنیا کي چې مقلدینو او غیر مقلدینو ته منظور دي هغه دغه علماء دي.

دا فتواوي څنګه را جمع سوي دي؟ په اړه يې حماسي صاحب فرمايي: تاسو داسي فکر و نه کړئ، چې کیدای سي ده به چیرته دا خبري اورېدلي وي، (یا بلکه) ما ټولي دا په خپلو سترګو لیدلي دي په کتابونو کي.

د کتاب ترتیب په دې ډول دئ:

د عالم نوم، د عالم په اړه معلومات

د کتاب نوم، په کتاب کي د میلاد په اړه خبره.

احناف:

1. ***امام وهبة الزحیل***، صاحب د تفسیر المنیر او فقه الاسلامي وادلته.

فتاوی العصر، په دغه کتاب کي يې فتوا ورکړې ده، روا دئ، ثواب لري.

2. ***امام رباني مجدد الف ثاني***، تر زرو کلونو وروسته د دین نوی کوونکئ یعني له دین څخه بدعتونه پاکوي، د تصوفو مروجه څلور سره طریقې له ده مبارک څخه سرچینه اخلي، په هندوستان کي یو عظیم انقلاب راوستئ دئ. له نن څخه څلور سوه کاله مخکي تېر سوئ دئ.

مکتوبات امام رباني، یو ځو ځایه یې د میلاد لمانځل نه دي خوښ کړي، اما وروسته په یو مکتوب شریف د میلاد اجازه ورکوي او بیا هلته محشي (حاشیه کوونکي) لیکلي، چې په کوم ځای کې امام رباني صاحب منع کړې، هلته یې د بدعاتو په خاطر منع کړې، نو هلته هم دا خبره ورسره لحاظ ده، چې که له بدعاتو څخه خالي وي، نو جائز دئ.

<u>دیوبندي علماء:</u>

3. ***مولانا خلیل احمد سهارنپوري***، مصنف د بذل المجهود.

المهند علی المفند([1])، د دیوبند د عمومي اکابرو د عقیدې کتاب دئ، دلته لیکي: هغه مولود، چې د الله ذکر، د رسول علیه السلام سیرت او د رسول علیه السلام د صحابوو سیرت پکښې وي، دا په اسلام کې جائز دئ.

4. ***مفتي محمد شفیع***، په افغانستان کې چې اکثره علماء ترجمه کوي، نو حواله د ده له کتاب معارف القرآن څخه ورکوي.

جواهر الفقه، هغه مولود چې ذکر پکښې وي جائز دئ، هغه مولود چې ګډېدا (نڅا) پکښې وي، هغه ناجائز دئ. آهـ

5. ***مولانا محمود الحسن الدیوبندي***، چې شیخ الهند ورته وایي معنی د ټول هندوستان عالم.

جواهر الفقه، کې یې د شیخ الهند رحمه الله وینا هم را نقل کړې، چې هغه وایي: جائز دئ.

6. ***تفسیر روح البیان***، کې یې د (مولود د) جواز فتوا ورکړې ده.

7. ***ملا علي قاري الهروي***، زه سر کال حج ته تللی وم، هلته هغه وهابیان علماء وه، چې د ملا علي قاري رحمه الله نوم به دي ورته یاد کړ، نو لاس پر نامه به درېدل.

المولد الروي في مولد النبوي، د مولود په اثبات کې یې مستقل کتاب لیکلی.

8. ***کامل ابن مصطفی النابلوسي***، په لیبیا کې زمونږ حنفي مذهبه عالم دئ.

فتاوی کاملیه، په کتاب حضر والاباحت کې یې یو عنوان ایښئ، علماؤ تاسو یې وګورئ.

9. ***علامه عبدالحق ابن سیف الدین ابن سعد الله الدهلوي*** ، چې په لومړی ځل یې په اقلیم د هندوستان کې یې د حدیثو رواج کړئ. له نن څخه څلور سوه کاله مخکې په هندوستان کې وفات سوئ دئ.

ما ثبت بالسُنة في ایام السَنة، په دې کتاب کې یې لیکلی، چې مولود جائز دئ. دا کتاب لا مطبوع نه دئ، زما سره د دې کتاب مخطوطه نسخه سته، سوونه کاله مخکې جوړ سوئ دئ.

10. ***شاه ولی الله محدث الدهلوي***، دی د ټولو علماؤ د احادیثو په سلسله کې استاد دئ.

---

[1] : المُهَنَّد= هندیَ توره. عَلَی المُفَنَّد= پر درواغجن باندي. یعني چې څوک درواغ وایي، دغه هندیَ توره دي باندي ولګیږي، مردار دي سي.

فيوضات الحرمين، کې يې ليکلي: يوه ورځ زه په مکه مکرمه کې ناست وم، د مولود مجلس وو، د اسمان له طرفه داسي انوار را روان وه، ډير انوار را کښته کېدل، چې ښه ورته متوجه سوم، نو هغه ملائکې وې. (مطلب دا چې د مولود مجلس ته له اسمان څخه ملائکې راځي)

بل کتاب کې يې ليکلي: زما د پلار (شاه عبدالرحيم صاحب) دا عادت وو، چې هر کال به يې مولود لمانځئ. يو کال ډير غريب وو، څه شی نه وو ورسره، يو لږ نخود ورسره وه، هغه يې خيرات کړل، بيا يې رسول عليه السلام وليدئ ([2]) هغه نخود يې مخته ايښي وه او ډير خوشحال وو، چې دغه صدقه دي کړې، همدغه هم کافي ده.

11. ***علامه عبدالغني النابلوسي النقشبندي المجددي***، ډير لوی عالم دئ او ډير کتابونه يې ليکلي دي.

جواهر البحار في فضائل النبي المختار، په دې کتاب کې يې (د جواز) فتوا را نقل کړې ده. (نو د ده جواز هم ثابت سو.)

12. ***علامه عبدالحی اللکنهوي***،

مجموع الفتاوی، کې يې په څلورم جلد، په کتاب حضر والاباحت (د مولود) د جواز فتوا ورکړې ده.

13. ***شاه عبدالعزيز***، تفسيرِ عزيزي يې مشهور تفسير دئ او ډير لوی عالم دئ.

فتاوی عزيزيه، کې د مولود د جواز فتوا ورکړې ده.

14. ***مفتي تقي عثماني***، په دنيا کې د مقلدينو او غير مقلدينو علماؤ مشر دئ. ما چې به په مدينه منوره کې په هغه لويه کتابخانه کې د ده کتاب فتح الملهم وليدئ، چې داسي غټ به يې ايښئ وو، نو دا زړه به مي په يخ سو، چې دا د احنافو کتاب يې تر ټولو لوړ ايښئ دئ.

فتاوی عثمانيه، کې يې دا زموږ (رقم) د مولود د جواز فتوا ورکړې ده.

15. ***علامه رشيد احمد ګنګوهي***،

فتاوی رشيديه، کې، هغه د هندوستان (د بريلويانو) مولود يې رد کړئ، چې منکرات نه وي پکښې، لکه زموږ مولود، نو دا جائز دئ، هيڅ خبره نسته ورپکښې.

قيام في المولود: دې ته وايي، چې بريلويان يو دم چيغي کړي، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) راغئ، ورته ودرېږئ. دا خبره علامه ظفر احمد عثماني صاحب په اعلاء السنن کې دوه ځايه ذکر کړې، دا عقيده موږ هم نه منو. دا په اسلام کې ناروا ده.

16. ***عبدالغني ابن اسماعيل ابن عبدالغني النابلوسي***، لوی حنفي مذهبه عالم دئ.

دغه عالم د رسول عليه السلام په ميلاد کې يو کتاب ليکلی دئ.

---

[2]: په وينه يا په خوب کې.

شافعي علماء:

17. ***امام سیوطي***، دا سړی ټولي دنیا ته منظور دئ. تاسو غیر مقلدینو ته ووایاست، چې (امام) سیوطي عالم دئ، که نه دئ؟ درته وبه وایي، په سر او سترګو یې منم. زما سره یې تر دوه نیم سوه زیات کتابونه سته.

ده یو کتاب د مولود په باره کې یو لیکلی، نوم یې دئ: حسن المقصد في عمل المولد. په دغه کتاب کې یې دلائل راوړي، چې مولود بالکل ثابت او ثبوت لري.

18. ***علامه ابن حجر***، پر بخاري یې شرح کړې،

له ده څخه چا پوښتنه وکړه، چې مولود په اسلام کې جائز دئ که یا؟ ده ویل: هو.

19. ***ابن حجر هیتمي***، د دنیا په سطحه باندي ډېر لوی عالم دئ.

الفتاوی الحدیثیه، کې یې (د میلاد د جواز) فتوا ورکړې.

نعمة الکبری علی العالم بمولد سید وُلد آدم، دا یې د رسول علیه السلام پر میلاد یو مستقل کتاب دئ، ډېر اوږد بیان یې په کتاب کې کړئ.

20.***علامه سخاوي، شمس الدین عبدالرحمن السخاوي***، یو کتاب یې په مصطلحاتُ الحدیث کې جوړ کړئ، فتح المغیث، چې په ټوله دنیا کې مشهور دئ. دومره لوی عالم دئ، کله چې دی ووایي، دا حدیث مي پیدا نه کړ، نو د دنیا علماء ورته تسلیم وي. امیر المؤمنین في الحدیث دئ.

یو کتاب یې د میلاد په اړه مستقل لیکلئ دئ.

التحفة اللطیفة في تاریخ مدینة الشریفة، یو جلد کې کتاب دئ. د ابن جماعة په مناقبو کې یې دا (د میلاد) خبره لیکلې ده.

الاجوبة المرضیة في ما سُئل عن السخاوي من الاحادیث النبویة([3])، کې له امام سخاوي رحمه الله نه فتوا غوښتل سوئ، چې مولود په اسلام کې څنګه دئ؟ څلور صفحې تحقیق یې ورباندي کړئ دئ. بیا یې لیکلي: زما استاد علامه ابن حجر فتوا د جواز کړې او زه هم د جواز فتوا ورکوم. هو چې منکرات نه وي پکښې لکه د ښځو راتګ او د هلکانو ګډېدل (اتڼ یا ایشله). آهـ نو زموږ په مولود کې چیري دي د هلکانو ګډېدل او چیري وو د ښځو حاضرېدل؟

التبر المسبوک في ذیل السلوک، د اول جلد ان شاء الله داسي ۵۵ یا ۵۶ صفحه کې به وي. تاسي یې وګورئ، چې څومره ښه تحقیق ورباندي کوي.

21. ***علامه قسطلاني***، لوی محدث د دنیا دئ.

[3] : د کتاب د نوم معنی ده، چې سوال درڅخه کوم، جواب به یي په حدیث راکوي.

المواهب اللدنيه في المنح المحمدية، په دغه کتاب کې علامه قسطلاني رحمه الله ډېر خوندور تحقيق ورباندي کړئ.

22. **په دنيا کې درې مشهور کتابونه** د رسول عليه السلام په سيرت کې جوړ دي. ما تر دوی زيات جامع کتابونه د رسول عليه السلام په سيرت کې نه دي ليدلي: سُبُل الهدی والرشاد في سيرة خير العباد، زرقاني (۱۲جلده) او انسان العيون في سيرة الأمين المامون. په درو سرو کې يې د مولود د جواز فتوا ورکړې.

23.**محمد ابن يوسف الصالحي الشامي**. ډېر لوی عالم دئ، چې په دنيا کې د سِيَرو په کتابونو کې يو مشهور کتاب د ده دئ.

سبُل الهدی والرشاد، په دې کتاب کې يې يو عنوان ايښئ. چې د رسول عليه السلام مولود لمانځل څنګه دي؟ وايي: جائز دئ بالکل جواز لري. ډېر اوږد تقريبًا ۸ يا ۹ صفحې يې ورباندي ليکلي.

زرقاني، چې د سيرة مشهور کتاب دئ، ۴ يا ۵ صفحې يې پر ميلاد بيان کړئ دئ.

24. **علامه ابوالفرج نورالدين الحلوي**،

انسان العيون في سيرة الأمين المأمون، هلته يې (پر مولود باندي) ډېر اوږد بيان کړئ دئ.

25. **علامه جزري**، الحصن الحصين يې په اذکارو کې کتاب جوړ کړئ دئ.

العرف التعريف في مولد النبوي الشريف، د مولود په جواز کې مستقل کتاب دئ.

26. **ابن ناصرالدين الدمشقي**،

سلوة الکئيب بوفاة الحبيب، ده فتوا د جواز ورکړې.

27. **ابن کثير الدمشقي**، د البدايه والنهايه مصنف، چې په دنيا کې يو له مشهورو او ګوتو په شمار اسلامي تاريخونو څخه دئ. ډېر لوی محدث تير سوئ. تفسيرِ ابن کثير يې د قرآن کريم تفسير کړئ.

البداية والنهاية، د کوکبري پاچا له ښو کارونو، نه يو دا وو، چې ده به ميلاد لمانځئ.

28.**امام ذهبي**، په دنيا کې تر ده لوی مؤرخ (تاريخپوه) نسته. لوی محدث عالم وو. د دنيا په سطحه امام وو.

تاريخ الاسلام (۳۶ جلده)، د کوکبري پاچا په محاسنو کې يې ليکلي، چې ده به مولود لمانځئ.

سِيرُ علام النبلاء (۱۷ جلده)، کې يې هم د دغه پاچا په هکله ليکلي، چې دا يې ښه کار وو، چې ده به مولود لمانځئ.

العبر في خبر من غبر(۳ جلده)، وايي ميلاد د رسول عليه السلام يو مستحسن کار دئ.

که ناجائز وای، ولې يې د ده په مناقبو کې راوړ؟ ولې يې ورباندي رد و نه کړ؟

سره د دې، چې ابن تيميه شاګرد دئ، بيا يې هم د ميلاد د جواز فتوا ورکړې.

29.***امام تاج الدين السُبُكي***، هغه سړی دئ، چې د ابن تيميه په وړاندي راپورته سو. ده هم د مولود په جواز کي فتوا ورکړې ده.

30. ***ابن خلکان***،

وفيات الاعيان، کي يې هم د مولود د پاچا په محاسنو کي راوړئ.

31. ***يوسف ابن اسماعيل النبهاني***،

جواهر البحار في فضائل النبي المختار (۴جلده)، په دې کتاب کي يې د مولود په باره کي ډېر اوږد تحقيق کړئ.

جامع المعجزات، په دغه کتاب کي يې هم تحقيق ورباندي کړئ. په دواړو کتابونو کي يې د مولود شريف په باره ډېر اوږد تحقيق کړئ.

32. ***ابو زرعه العراقي***، له هغو خلکو څخه دئ، چې يو لک احاديث يې په ياد وه، متنا، سندا، رواية.

وايي، مولود په اسلام کي جائز دئ، څوک يې چې کوي، الله تعالی ورته ثواب ورکوي.

33. ***عبدالرؤف المناوي***،

نسمات الاسحار، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په سيرة کي يې ليکلئ، دلته يې هم د ميلاد خبره کړې ده.

بل کتاب يې مستقل په ميلاد کي جوړ کړئ دئ.

34. ***ابو الفضل عبدالرحيم بن الحسين العراقي***، (چې له نن څخه تقريبًا شپږ سوه کاله مخکي وفات سوئ دئ.) هغه عالم دئ، چې د احياء العلوم د احاديثو تخريج يې کړئ دئ. امير المؤمنين في الحديث دئ.

المورد الهني في المولد السني، د رسول عليه السلام د ميلاد جواز ښکنبي سته.

حنابله علماء:

35. ***ابن رجب الحنبلي***، ډېر کتابونه لري، يو پر بخاري شريف نامکمله شرحه لري. اووه سوه کاله مخکي تېر سوئ.

لطائف المعارف، کي يې پر دغه موضوع عنوان ايښئ، چې مولود د رسول عليه السلام جائز دئ...... بيا يې پر دې موضوع ډېر اوږد بيان کړئ.

36. ***ابن جوزي الحنبلي العراقي***، امير المؤمنين في الحديث دئ.

المورد العروف، کي ليکلي: په کوم ځای چې ميلاد ولمانځل سي، دا يو لوی شکست شيطان ته بس ده، چې ارغام ([4]) د شيطان ښکنبي راځي.

---

[4] ارغام: پزه سپېره کېدل يعني نااُميده کېدل.

مالکي علماء:

37. ***علامه عبدالباقي الزرقاني المالکي***،

شرح مواهب اللدنية، ډير دلائل يې هلته ليکلی. يو له فوائدو يې دا ليکلی، چې په کوم ځای کې مولود ولمانځل سي، نو په هغه کال به پر هغه سيمه باندي الله تعالی ډير رحمتونه را نازلوي. آهـ لِلّٰهِ الحمد د تيرو کلونو په پرتله سږکال مولودونه ډير دي.

38. ***علامه دردير المالکي***، دی په مالکيانو کې دومره لوی سړی دئ، لکه په موږ کې ابن عابدين الشامي.

ده هم د جواز فتوا ورکړې ده.

39. ***علامه ابن الحاج المالکي***،

المدخل، يو منکرات د مولود دي، (يعني خپله مولود نه) هغه يې رد کړي، يو دا زموږ رقم مولود دئ، (وايي) دا بالکل ثابت دئ، شرعاً جواز لري، څه خبره نسته پکښې.

40. ***مالکي مذهبه علماء وايي:*** د ميلاد د ورځې، روژه نيول اسلام کې مستحب ده. دا خبره د ده د مذهب په کتاب مواهب الجليل من ادلة الخليل کې ليکلې. په نهو جلدونو کې ده او دومره معتمده فتاوی ده لکه په موږ کې شامي.

41. ***احمد ابن محمد الصاوي المالکي***،

الصاوي علی شرح الصغير، کې ليکلي، چې د ميلاد روژه مستحبه ده او جلسه وربانديي جوړول جواز لري.

42. ***امام دسوقي***،

دغه عالم هم د ميلاد د روژې استحباب خبره هم کړې، نور خو پرېږده.

او رساله د شيخ حماسي صاحب په دې وينا پای ته رسوو، چې: (دا دومره علماء يې مني) نور نو څوک در پاته سول.